مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ
۲۰۱۸/۰۳/۲۴

# د جرمني نوی ایتلافي حکومت او صدراعظمي ته یوه کتنه

**سریزه:**

په ۲۰۱۷ کال د سپتامبر ۲۴ مه نېټه د المان د ولسي جرګې ټاکنې ترسره شوې. د بوندسټاګ یا ولسي جرګې په ټاکنو کې باید ۶۱،۵ میلیونو جرمنانو برخه اخیستلې وای، له دې شمیرې نه په ټاکنو کې ۷۶،۲ سلنه المانانو برخه واخیستله. درې میلیونو جرمنانو د لومړی ځل لپاره په ټاکنو کې ګډون وکړو. د المان سوسیال دیموکراټ ګوند SPD ۲۰،۵ سلنه، د مسیحي دیموکرات او مسیحي سوسیال ګوندونو اتحاد ۳۲،۹ CDU/CSU سلنه رایې تر لاسه کړې. له دې سره د میرکل ګوند په دې ونه توانید، تر نور ګوندونو د پارلمان اکثریت څوکۍ خپلې کړې. (سي ډي یو/څي اس یو) د فدرال جرمني رامنځ ته کیدو راهیسې دوواړه ګوندونه متحد ګوندونه دي. د المان پارلماني ټاکنو کې دریم ځای د المان لپاره بدیل ګوند AfD یو توند لاری، سختدریځه ښی اړخه اسلام او کډوالو ضد ګوند ۱۲،۶ سلنه رایې ترلاسه کړې. دغه ښی اړخی پوپولیسټ، استبدادي ګوند په لومړي ځل په دې وتوانیدو، د المان ولسي جرګې ته لاره ومومي. له هغې ورسته کله چې د نوامبر په شپه کې د مسیحي دیموکرات او مسیحي سوسیال ګوندونو ایتلاف، آزاد دیموکرات ګوند او زرغون ګوند ترمنځ د یو ستر ایتلاف را منځ ته کولو په اړه مقدماتي خبرې اترې ناکامې شوې. ځکه نوموړي ګوندونه په سیاسي مهمو موضوګانو سره جوړ رانغلل او له دې ورسته د یو بل ستر ایتلاف لپاره لاره هواره شوه. که څه هم د ټاکنو په شپه کې د سوسیال دیموکراټ ګوند مشر د یو بل نوي ستر ایتلاف را منځ ته کیدلو شونتیا رد کړې وه او هغه سمدستي دا خبره هم روښانه کړې وه، چې سوسیال دیموکرات ګوند به اپوزسیون ځای ته دورمي. کله چې د روان کال د مارچ په دیارلسمه د یو ستر ایتلاف تړون لاسلیک شو. دغو درې واړه ولسي ګوندونه هوډ څرګند کړ، څو د یو ستر نوی ایتلاف له لارې د المان د راتلونکې سیاست واګې په لاس کې واخلي. د المان په ولسي جرګه کې به ټول اووه ګوندونه په راتلونکي کې سیاست کوي.

د المان تر ولسي جرګې ټاکنو ۱۷۱ ورځې ورسته تیره چهارشنبه د المان ولسي جرګې مېرمن میرکل د څلورم ځل لپاره د ولسمشرۍ په مانۍ بیلیوو کې رسماً د المان صدراعظمه ونوموله. دا د المان په تاریخ کې لومړي ځل دی، چې د حکومت جوړولو بهیر او د یو ستر ایتلاف جوړولو تړون خبرې اترې دومره اوږدې شوې. د دې لاملونه ډیر دي، څو تر ټاکنو ورسته په ټولیزه توګه سوسیال د یموکرات ګوند له دې ډډه کړې وه، چې د میرکل مسیحي دیموکرات ګوند او د هغې له ملګري مسیحي سوسیال ګوند سره بیا ایتلافي حکومت جوړکړي. په پیل کې د مېرمن میرکل ګوند هڅه وکړه، څو د لبیرال دیموکرات او زرغون ګوندونو سره یو ایتلافي حکومت جوړ کړي. آزاد دیموکرات ګوند د مقدماتي څیړنیزو خبرو اترو سره پریکون وکړ او وویل، چې په دې شرایطو د میرکل سره په حکومت کې ګډون نشي کولې. له دې ورسته د میرکل ګوند مجبور شو، د سوسیال د یموکرات ګوند سره د یو ستر ایتلاف جوړولو خبرې اترې بیا پیل کړې.

**د المان فدرالي جمهوریت بنسټ ایښودل او پارلماني شورا لنډ تاریخ:**

په ۱۹۴۸ کال د فبروي په درویشتمه، د مارچ په شپږمه او د جون په دویمه نېټه د لندن د شپږو څواکونو کانفرانس د پریکړې پر بنسټ د المان په دریواړو اشغال شویو سیمو کې د ایالتونو لومړي وزیرانو ته دنده وسپارل شوه، څو د لویدیځ المان فدرالي دولت جوړولو ته چمتووالي ونیسي.

د ۱۹۴۸ کال د جولای په لومړي نېټه د لویدیځ المان دریواړو سیمو کې پوځي والیان او د ایالتونو حکومتونو مشران د فرانکفورټ ام مین ښار ته وروبلل شول. دوی ته په فرانکفورټ کې د فرانکفورټ په نامه د کاغذي لاسوندونو یو سند ورکړل شو. دا دنده هم ور وسپارل شوه، څو تر ۱۹۴۸ کال د سپتامبر میاشتې لومړي نېټي پورې د مقننه شورا یوه جرګه هم جوړه کړي.

د ۱۹۴۸ کال د جولای له اتمې څخه تر لسمې نېټې پورې لومړي وزیرانو د المان د کوبلنس په ښار کې د فرانکفورټ سند په بنسټ د فدرالي المان دولت بنسټ کینښودل شو. په ۱۹۴۸ کال کې د جولای په شپږویشتمه نېټه د متحدینو پوځي حکومتونو او د لویدیځ المان د ایالتونو لومړي وزیرانو له ډیرو صلاح مشورو ورسته په دې سره جوړ راغلل،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که څه هم د دوی لومړنی جدي اندېښنې د المان د وېشلو په اړه را څرګندې شوې وې. د دې اندېښنو سربېره دوی دې پایلې ته سره ورسېدل، چې په مستقیم ډول د یوې ټاکل شوې مقننه شورا په ځای یوه پارالماني شورا راوغواړي او ورسره د المان اساسي قانون جوړ کړل شي. له اساسي قانون څخه د فرانکفورټ په سند کې یادونه نه وه شوې. د اساسي قانون مصوده د المان ولس ته وړاندې نشوه، بلکې د ایالتونو ولسي جرګو ته د تصویب لپاره وړاندې شوه .
د ۱۹۴۸ کال د سپتامبر په لومړي نېټه د بن په ښار کې پارلماني شورا خپل کار پیل وکړ. دې پارلماني شورا ته د لویدیځ المان ایالتي ولسي جرګو څخه ۶۵ غړي واستول شول. ۲۷ غړي د سوسیال دېموکرات ګوند، په همدغه شمېر د مسیحي دېموکرات او مسیحي سوسیال ګوند، پېنځه کسه د لیبرال دېموکرات ګوند، پېنځه نور غړي د برلین او دوه کسه د المان کمونیست ګوند څخه وټاکل شول.
د پارلماني شورا مشر ښاغلی کونراد ادنوور و ټاکل شو. د ۱۹۴۸ کال د مي میاشت په اتمه نېټه د فدرالي المان اساسي قانون د همدې پارلماني شورا له لوري د ۵۳ غړو موافقو رائیو او ۱۲ غړو مخالفو رائیو تصویب کړ. اساسي قانون څلور ورځې ورسته د متحدینو پوځي والیانو له لوري هم په رسمیت وپېژندل شو. د ۱۹۴۸ کال د مي په درویشتمه نېټه د المان پارلماني شورا له لورې د ۳۳ موافقو رائیو او ۲۹ مخالفو رائیو پر بنسټ د بن ښار د لویدیځ المان د پلازمېنې په توګه وټاکل شو.
د المان اساسي قانون پر بنسټ ولسمشر د فدرالي شورا له لوري ټاکل کیږي. د اساسي قانون د ۵۹ مادې په بنسټ ولسمشر قانوناً پر نړیواله کچ د فدرالي المان استازیتوب کوي. ولسمشر د فدرالي المان په نامه د بهرنیو هیوادونو سره تړونونه لاسلیکوي. د پارلمان منحلیدل هم د ولسمشر له واکونو څخه ګڼل کیږي.د المان اساسي قانون صدراعظم ته هم ستر واکونه ورکړي دي. ولسمشر د المان سیاست واکې ټاکي او مسوولیت یې هم په غاړه اخلي.
د المان فدرالي جمهوریت اساسي قانون د ۱۹۴۹ کال د مي په اتمه نېټه د یوې پارلماني شورا له لوري تصویب شوي دی. د اساسي قانون تعدیل لپاره د ولسي جرګې دوه په دریمه برخه او هم د مشرانو جرګې دوه په دریمه برخې رائیو ته اړتیا شته. د المان حکومت درېګوني ځواکونو څخه جوړ شوي دی. دیموکراسي یا ولسواکي د خلکو حاکمیت په مانا تعبیر کیږي.
د المان د اساسي قانون دریِ شپیتمه مادې یا ارټکل پر بنسټ ولسي جرګه د چانسلر یا صدراعظم په اړه پریکړه کوي. ولسمشر یواځې د لومړي دورې ټاکنې لپاره د وړاندیز حق یا رښته لري. همدارنګه صدراعظم د اساسي قانون پر بنسټ دا رښته لري، خپله کابینه وټاکي او ولسمشر ته رسماً وروپېژني. د اساسی قانون پر بنسټ صدراعظمه د خپل حکومت د سیاست بنسټیزه واکې ټاکي او مسوولیت پر غاړه اخلي. دې ته د المان په حقوقي او سیاسي ادبیاتو کې د صدراعظم پرنسیب هم ویل کیږي. صدراعظم خپل مرستیال هم ټاکي، دغه دنده اکثراً د بهرنیو چارو وزیر پر غاړه وي. کله چې حکومت ایتلافي وي بیا معمولاً د صدراعظم مرستیال د حکومت ایتلافي ملګري ګوند څخه ټاکل کیږي. د اساسي قانون یو سلو پېنځه لسمې مادې په بنسټ صدراعظم د دفاعي چارو په حالت کې د المان وسله وال پوځ مشرتوب کوي. د اساسي قانون په بنسټ صدراعظم کولی شي، د باور رایې اخیستلو په مرسته ډاډګیرنه تر لاسه کړي، چې د ولسي جرګې له لوري د هغه سیاست ملاتړ کیږي او که نه. کله چې د ولسي جرګې د غړو اکثریت رایې ترلاسه نه شوه، صدراعظم دا حق لري، څو ولسمشر ته د ولسي جرګې منحلیدو وړاندیز وکړي.

## د المان د سترو ایتلافونو تاریخ ته یوه کتنه:

په المان کې ستر ایتلافونه تاریخ ته په کتو سره ستر ایتلافونه د هیڅ چا خوښ نه دي. ستر ایتلافونه د یوې ځانګړي موخې لپاره رامنځ ته کیږي. ستر ایتلاف اکِثراً د مسیحي دېموکرات او مسیحي سوسیال ګوندو اتحاد او د سوسیال دېموکرات ګوندونو څخه را منځ ته کیږي. خو ستر ایتلاف د نور ګوندنو لپاره په ځانګړي توګه په زړه پوری نه وي. تر اوسه د المان په تاریخ کې د ټول المان په کچه درې ځلې ستر ایتلافونه د دوو اتحادي ملګري ګوندونو د مسیحي دېموکرات او مسیحي سوسیال ګوندو په مشری را منځ ته شوي دي.
د المان د دموکراسي تیوریسنان په دې اند دي، چې دا ډول ستر ایتلافونه د ټولنې په کونجونو کې پراته واړه ګوندونه پیاوړي کوي. د ۲۰۱۷ کال د سپتامبر ۲۴ نېټې ورستیو ټاکنو پایلې دا تیوري په اثبات ورسوله

## د المان لومړنی ستر ایتلافي حکومت:

د دویمې نړیوالې جګړې ورسته لومړنی ستر ایتلاف د ۱۹۶۶ د دسامبر لومړي نېټه نه تر ۱۹۶۹ کلونو پوري دوام وکړو. د دې ایتلافي حکومت صدراعظم د مسیحي سوسیال دېموکرات ګوند غړی ښاغلي کورټ ګیورګ کیسنګر او د صدراعظم مرستیال د سوسیال دېموکرات ګوند غړی او د بهرنو چارو وزیر ښاغلي ویلي برآنټ وه. دا د المان په تاریخ کې لومړنی ستر ایتلافي حکومت وه. دا مهال د المان فدرالي جمهوریت په المانې ټولنه کې سترو بنسټیزه بدلونو ته لاره هواره شوه. د دویمې نړیوالې جګړې ورسته د لومړني نسل غوښتنه دا وه، چې د نازي المان د تیر تاریخ سره په رېښتیني توګه سم چلند وشي او په ټولنه کې ټولنیز عدالت ته لاره هواره شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## دویم ستر ایتلاف د ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۰۹ کلونو پوري دوام وکړو:

دویم ستر ایتلاف د مېرمن میرکل په مشرۍ رامنځ ته شوي دی. د المان په سیاسي ادبیاتو او رسنیو کې د مسیحي سوسیال دېموکرات ګوند رنګ تور، د سوسیال دېموکرات ګوند رنګ سور، ازاد دېموکرات ګوند رنګ زېړ او د زرغون ګوند رنګ زرغون ښوول کېږي. د تور او سور ګوند ایتلاف څخه تل واړه ګوندونه کټه اخلي. د ۲۰۰۵ کال راهیسې مېرمن میرکل د مسیحي دېموکرات ګوند محافظه کاره مشره د المان صدراعظمه پاتې شوي ده.

## دریم ستر ایتلاف د ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱۷ کلونو پوري دوام وکړو:

دا ایتلاف د مسیحي دیموکرات او مسیحي سوسیال اتحادي ګوندونو سره د سوسیال دیموکرات ګوند ترمنځ ایتلاف وو. د همدې ستر ایتلاف په موده کې د المان لپاره بدیل ګوند( اې اف ډي) وتوانیدو، د ټاکنې له لارې د المان ولسي جرګې ته لاره ومومي. په دې ټاکنو کې سوسیال دېموکرات ګوند ډیرې رایې له لاسه ورکړي او په ټاکنو که سخته ماته وخوړله

## د المان اوسنی څلورم ستر ایتلافي حکومت:

د المان ایتلافي حکومت صدراعظمه مېرمن انګیلا میرکل د یو نوی لوی ایتلافي حکومت مشري په غاړه واخیسته. دا نوی حکومت د یو ستر ایتلاف د منځلارې ښي اړخه مسیحي دیموکرات ګوند، ښی اړخه سوسیال مسیحي ګوند او کیڼ اړخه سوسیال دیموکراټ ګوند څخه رامنځ ته شوي دی.

## کله چې د ایتلاف جوړولو په اړه مقدماتي خبرې اترې ناکامي شي، څه پيښيږي؟

د جرمني هیواد به تل یو حکومت ولري. ان په هغه صورت کې هم کله چې ګوندونه یوې موافقه ته سره نه رسیږي. پوښتنه دا ده، تر کوم وخته پورې باید ګوندونه یوې موافقه ته سره ورسیږي.؟ د المان اساسي قانون د نوي حکومت د جوړیدو لپاره کوم ضرب الاجل نه دی ټاکلی. خو داسې لیکي، د ټاکنو څخه دیرش ورځې ورسته باید نوې ولسي جرګه خپل کار پیل کړي. د ۲۰۱۳ کال د ولسي جرګې ټاکنو ورسته دریو میاشتو ته اړتیا وه، څو یو ستر ایتلاف را منځ ته شي. کله چې ایتلاف جوړ نشي، یو بدیل دا هم کیدای شي، څو د لږکیو یو حکومت رامنځ ته شي. د المان اساسي قانون د لږکیو حکومت ته په ښه سترګه نه ګوري، ځکه ولسواکی سیاسي ثبات ته اړتیا لري او د لږکیو حکومت د المان سیاست بې ثباتي ته بیایي.

## میرکل په پرله پسې توګه د څلورم ځل لپاره د جرمني صدراعظمه وټاکل شوه:

د پارلماني ټاکنو ورسته د المان دریو سترو ولسي ګوندونو موافقه وکړه، څو یو ځل بیا د مېرمن میرکل تر مشرۍ لاندې یو ستر ایتلافي حکومت جوړ کړي. په دې ستر ایتلاف کې مسیحي دیموکرات ګوند، سوسیال مسیحي ګوند او سوسیال دیموکراټ ګوند شامل دي. دا ستر ایتلافي حکومت ورسته له هغې رامنځ ته شو، کله چې د سوسیال دیموکراټ ګوند نږدې نیم میلیون غړو ۶۶ سلنې د یو بل ستر ایتلاف په اړه پریکړه ورکړه.
د ولسي جرګې ټاکنو څخه نږدې نیم کال ورسته د انګیلا میرکل په مشرۍ د سوسیال دېموکراټ ګوند سره د ډیرو اوږدو خبرو اترو ورسته د نوي ستر ایتلاف تړون لاسلیک شو. مېرمن میرکل تیره اوونی د څلورم ځل لپاره د ولسي جرګې لخوا د المان صدراعظمه وټاکل شوه. له دې ستر ایتلاف سره د نوموړي ګوندونو تر منځ درې ځلې ایتلافونه شوي دي. دا هم لومړي ځل دی، چې د یو ستر ایتلاف ورسته یو بل ستر ایتلافي حکومت رامنځ ته کیږي. دا ځل په المان کې د ایتلافي حکومت جوړښت په اړه خبرې اترې ځېنتي ډیرې اوږدې شوې.
په المان کې حکومت د ښې حکومتوالی لپاره په ولسي جرګه کې د اکثریت رائیو ته اړتیا لري. د المان ولسي جرګه ۷۰۹ غړي لري، د حکومت د تائید لپاره لږ تر لږه ۳۵۵ رائیو ته اړتیا لري.
د ولسي جرګې د ۷۰۹ استازو څخه ۶۹۴ استازو خپله رایه وکاروله. ولسي جرګې ۶۹۲ استازو څخه ۳۶۴ غړو موافقه رایه ورکړه، د صدراعظمي ټاکلو لپاره ۳۵۵ رائیو ته اړتیا وه. ۳۱۵ استازو میرکل ته مخالفه رایه ورکړه د ستر ایتلاف د ګوندونو ۳۵ استازو میرکل ته مخالفه رایه ورکړې ده. مېرمن میرکل د څلورم ځل لپاره په لږو رائیو د المان صدراعظمه ټاکل شوي ده. په ۲۰۰۵ کال کې او په ۲۰۱۳ کال هم میرکل ته د ولسي جرګې ټولو استازو رایه ورنه کړه.په ۲۰۰۹ کال کې هم میرکل د اړتیا شمېرې څخه د نهو رائیو په ډیروالي سره صدراعظمه وټاکل شوه.
د لومړي ځل لپاره د میرکل خاوند ښاغلی پروفیسور یواخیم زاوور د خپلې مېرمنې د صدراعظمي د لوړې په مراسمو کې برخه واخیسته. میرکل درې ځلې صدراعظمه وټاکل شوه، د هغې خاوند درې ځلې د لوړې په مراسمو کې ګډون نه وه کړي. د میرکل مور هم د مارچ په څورلسمه نېټه د مراسمو په لوژ کې ناسته وه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

## میرکل د پخواني صدراعظم هلموت کهول انجلی د جرمني تلپاتي صدراعظمه:

د جرمني په رسنیو کې میرمن میرکل د تلپاتي صدراعظمي په نامه یادیږي. هلموت کهول هم شپاړلس کاله د المان صدراعظم وه. دا دري شپیته کلنه ښځه ځوک ده، چې د ځلورم ځل لپاره د المان صدراعظمه وټاکل شوه.
په ۱۹۹۱ کال کې د میرمن میرکل سیاسي لاربنود هلموت کهول د ختیځ المان شپږ دیرکلنه میرکل,, زما انجلی,, په نامه یاده کړه او په خپله کابینه کې د ښځو او ځوانانو چارو وزیره وټاکله، میرکل په دې لقب ته تر اوسه یادیږي. د ختیځ جرمني سیاستوالی ټاکنه د سوسیال مسیحي ګوند یوه ستراتیجکه ټاکنه وه.
انګریزي، امریکایي اخبارونو او رسنیو میرکل " Leader of the free word" د آزادی نړی مشری یاده کړې ده. انګریزی تاریخپوه Timothy Garton د الماني شترن مجلې سره په یوه مرکه کې ویلي. که چیرې یو داسي مشر شتون ولري، بیا هغه میرمن میرکل ده.

## د اقلیمي بدولون یا چاپیریال ساتني او د ښووني او روزني صدراعظمه:

په ۲۰۰۷ کال کې میرمن میرکل د خپل چاپیریال ساتني وزیر ځیګمار جبرائیل سره د ځمکې ګرموالي او د اقلیم بدولون ناوړو اغیزو مالومولو لپاره د دنمارک هیواد ګرینلند ته سفر وکړو، د سفر ورسته سمدستي پریکړه وکړه، چې تر ۲۰۲۰ کلونو پوري المان به د شینکوریزوغاز تولید کچه ځلویښتو سلنې ته را ټیټه کړي. له دې پریکړي ورسته میرمن میرکل د اقلیم صدراعظمي په نامه یاده شوه.
په ۲۰۱۵ کال کې میرکل د ښووني او روزني سیاست په اړه مهمي پریکړي وکړي. هغه د ښووني او روزني صدراعظمي په نامه یاده شوه. میرکل د نورو سیاسي پریکړو له امله د جرمني ملت مور په نامه هم یاده شوي ده.

## میرمن میرکل د کډوالو صدراعظمه:

په ۲۰۱۵ کال کې میرمن میرکل د کډوالي پالیسي له امله د جرمني توکمپالو او کډوالو ضد ګوند(اې اف ډي) له لور تر سختو نیوکو لاندې راغله. کله چې جرمني خپلې پولي د کډوالو پرمخ پرانیستي. میرمن میرکل د کډوالو صدراعظمي یاده شوه. جرمني ته د کډوالو د ورتګ مخنیوي د ټاکنیزو هلوځلو مهمه موضوع وه. ډیرو جرمنانو د میرکل د کډوالی پالیسی باندې سختي نیوکي وکړې، کله چې هغې د جرمني پولي د اټکل یو میلیون کډوالو پرمخ خلاصي کړي. اکثره کډوالو سوري او افغانان کډوال وه، دوی د خپلو ښځو او ماشومانو سره د المان پر پوله د پناه غوښتني لپاره ولاړول. د ملګرو ملتونو د رپوټ په بنسټ د نړی تر تولو ډیر پناغوښتونکي افغانان دي. په دې ترڅ کې ډیر افغانان جرمني ته کډوال شوي دي.

## د اروپا کډوالی ستر ناورین په جرمني کې محسوس شو:

کله چې اروپا ته د ناقانونه کډوالو بهیر پیل شو، په یوویشتمه کې ستر انساني ناورین رامنځ ته شو. ډیرو اروپایي هیوادنو د کډوالو د منلو او جذبولو څخه انکار وکړو.
کله چې د سمندر پرغاړه د سوری ماشوم مړی زړبونګي انځور په رسنیو کې خپرو شو. دې انځور د کډوالی ناورین د کډوالو د تګ لارې او په سمندرونو کې د ډوبیدو ستونزې نړیوالو ته ښکاره شوې.کله چې د جرمني پولو ته اټکل یو میلیون کډوال ورسیدل، میرمن میرکل کډوالو پیغاړي ته ورغله او وویل موږ دغه ستونزه کولی شو په ګډه ترسره کړو.د یوې بلې غوندې په ترڅ کې یوه افغان کډوال ماشوم د میرمن میرکل څخه مننه وکړه، د میرکل په سترګو کې اوښکې وې. بل افغان کډوال حسن خاوري په نامه د یو جرمني چاړواکي لور سره لومړی جنسي تیري وکړو او بیا په بې رحمی سره ووژله، دې انجلي له کډوالو سره د بشر دوستی مرستي کولي.

## اسلام د جرمني یوه برخه ګرځیدلي دی:

په ۲۰۱۰ کال کې د جرمني پخواني ولسمشر کریستین ولف وویل، ,,اسلام په جرمني پوري اړه لري,,. ولسمشر هغه همهال تر ډیرو سختو نیوکو لاندې راغلی او توده بحثونه یې راوپارول. د همدې ولسمشر د استعفا یو لامل همدغه خبره وه. د المان صدارعظمي میرمین میرکل د( سي ډي هو )ګوند مشری څو ځلي په تکرار سره ویلي دي. اسلام په جرمني پوري اړه لري او اسلام د جرمني یوه برخه ګرځیدلي دی.
میرمن میرکل ویلي، اټکل ځلور نیم میلیونه مسلمانان په جرمني کې میشت دي. له دې امله د اسلام دین د جزمني یوه برخه ګرځیدلي دی. د نوی ایتلافي حکومت د کورنیو چارو وزیر وایي، جرمني کې د اسلام لپاره ځای نشته یا اسلام په جرمني پوري اړه نه لري. دا ځرګندوني د میرکل ځرګندونو سره تضاد لري.
کله چې وسمهال د (سي اس هو) بنی اړخه ګوند مشر او د المان د کورنیو چارو وزیر زیهوفر له خوا د خپل کار په لومړي ورځ د میرکل خبره رد شوه، سمدستي میرکل د خپل ویاند په خوله د خپل وزیر دغه خبره بیرته رد او صلاح کړه، وویل، د جرمني فدرال حکومت مسلمانان ته ځښت ډیر درنښت لري. او اسلام په جرمني پوري اړه لري. ځکه دلته په المان کې ځلور نیم میلیونه مسلمانان ژوند کوي، دوی د المان یوه برخه جوړه وي او د دوی اسلام په جرمني پوري اړه لري. څنګه چې په تاریخي توګه مسیحیت او یهودیت په جرمني پوري اړه لري. میرمن میرکل خپل وزیر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

او خپل متحد ګوند په دې وپوهولو چې د حکومت اساسي کرښې هغه ټاکي. میرکل د خپل حکومت کړنلارې اعلانولو په لومړي ورځ وویل، جرمني کې، موږ دا ټول یو. مطلب یې د مسلمانانو څخه وه.
د المان اپوزسیون ګوندونو هم په کورنیو چارو وزیر سختې نیوکې وکړې او زیاتوي، زیهوفر وسمهال د( آی اف ډي) ګوند په وړاندې ټاکنیزه کمپاین پیل کړي دی. په اوړي کې د المان بایرن ایالت کې چیرته چې د زیهوفر ګوند برلاسي دی.ټاکنې تر سره کیږي. د زرغون ګوند یو مشر وویل، د کورنیو چارو وزیر خپله د کار لومړنې دنده په دې کې لټوي، چې څنګه زموږ هیواد سره وویشي. د زرغون ګوند مشر زیاته کړه دا یوه طبیعي خبره ده، چې دلته په المان کې استوګن مسلمانان په جرمني پورې اړه لري.

## د میرکل نوي ایتلافي حکومت مهمې کارې دندې :

د کډوالی سیاست، د مالیاتو سیاست، د کار بازار او د کارموندولو شرایط، د روغتیایي سیستم سیاست او نور ټولنیز عامه خدماتو رغولو سربیره میرکل غواړي په راتلونکي ټاکنو د المان لپاره بدیل ګوند له ولسي جرګې وباسي او د دې ګوند رایه ورکونکې بیرته ځانته راخپل کړي، ځکه د الما ن لپاره بدیل ګوند رایه ورکونکي د میرکل پر سیاستونو اعتراض کونکي خلک دي. میرکل غواړي دغه ګوند به راتلونکي ټاکنو کې مات کړي. میرکل په خپله یوه مرکه کې وویل، موږ به د هغو خلکو ستونزې ورحل کړو، کومو چې د (آی اف ډي) ګوند ته د اعتراض په توګه رایه ورکړې ده. میرکل پر نړیوال کچ ځان د یوې منځلارې او ښې مشرې په توګه څرګند کړي دی، د جرمني متحدین د المان نوی ایتلافي حکومت ته سترګې په لاره دي.
فرانسه او المان د اروپايي ټولنې رهبري کونکې پیاوړې هیوادونه دي. دغه ایتلافي حکومت به د اروپا برخلیک په اړه برخلیک ټاکونکي سیاست ولري.انګیلا مېرکل په خپله مرکه کې ویلي دي، په ۲۰۱۸ کال کې د اروپا په اړه یو بنسټیزه بدلون غوښتونکي ده. په بروکسل کې د اروپا پالیسي جوړونکي مرکز دا تمه لري، څو د المان سیاستوال او ایتلافي حکومت سوسیال دیموکراټان او مسیحي دیموکراتان باید په ګډه د اروپا لپاره مهمې پریکړې وکړي. تر اوسه میرکل د اروپايي سیاست یوه پیاوړې لویه سیاستواله پیژندل شوې ده. که په یوه اړخ کې د فرانسې ولسمشر امانوییل ماکرون د اروپايي ټولنې یو مهم مشر دی، خو په بل اړخ کې مېرمن میرکل د اروپايي ټولنې مهمه مشره ده. لنده دا چې په راتلونکې به المان د اروپايي ټولنې برخلیک ټاکي او انګیلا مېرکل به په کې مهم رول لوبوي.
د المان د نوی ایتلافي حکومت سیاستونه به د اروپا، افغان کډوالو او په افغانستان کې دغوڅ ملاتړ ماموریت تر چتر لاندې ژورې اغیزې ولري.
میرمن میرکل تر اوسه د پینځم ځل لپاره خپله نوماندې صدراعظمې ته نه ده رد کړي او هغه هوډ لري په راتلونکې ټاکنو کې د المان لپاره بدیل ګوند د ولسي جرګې څخه وشړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ